


# جلال آباد کښې دوه ورځنۍ سيمينار

رپورټ: امجد شهزاد

د ختيزې سيمې د ليکوالو او ژورنالېستانو د خپلواکې ټولنې په زيار د مارچ په څوارلسمه، پنځلسمه او شپاړسمه نېټه جلال آباد کښې د قبائلي چارو د غونډو په تالار کښې د درې ورځني سيمينار تابيا شوې وه (وروستو د ځنو وجوهاتو له کبله سيمينار دوه ورځې کړې شو) د سيمينار وړومبۍ برخه د فولکلور په حواله تحقيقي او علمي مقالې وې، دوېمه برخه د حبيب الله رفيع او پروفېسر سيال کاکړ په اعزاز کښې غونډه وه او درېمه برخه د رحمت شاه سائل او ډاکټر اسرار د نمانځلو دپاره مختص وه. د دې نه علاوه په سيمينار کښې د مشاعرو او موسيقۍ د پروګرامونو اهتمام هم شوے ؤ.

دې غونډو ته د افغانستان د بېلابېلو ولايتونو سره سره د پښتونخوا د ملاکنډ، مردان، وزيرستان، پېښور، لکي مروت، پاړه چنار، لورالائي او کوئټې مېلمانۀ راغلي وو. د پښتونخوا نه د اسد دانش په انتظام او اهتمام ښاغلے رحمت شاه سائل، ډاکټر اسرار، همېش خليل، مشتاق مجروح يوسفزے، سليم قرار، حضرت زېبر زېبر، امجد شهزاد، عبدالله وردک، عمر دراز مروت، اسلم تسنيم، ګوهر وزير، عبدالکريم عامر، اسرار اتل، عطارد، حنيف حېران، اقبال شاکر، ناصر امين، سردار يوسفزے، امين تنها، راشد خټک، ډاکټر سليم بېديا، سعدالله فطرت او حشمت د شاعرانو اديبانو او فنکارانو يو وفد لاړو. د دې نه علاوه د کوئټې نه پروفېسر سيال کاکړ او د پاړه چنار نه نعيم طورے او محمد هم سيمينار ته ځانونه رسولي وو.

د سيمينار وړومبے نشست د خيالي په ورځ د مارچ په څوارلسمه نېټه سحر لس بجې د قبائلي چارو د غونډو په تالار کښې شروع شو. د نظامت چارې مياخېل او آصف شينواري ترسره کړې او صدارت ئې ښاغلي عبدالله بختاني خدمتګار وکړو، په پرېزيډيم کښې د کابل والي حاجي دين محمد، عبدالله بختاني خدمتګار، سلېمان لائق، همېش خليل، رحمت شاه سائل، ډاکټر اسرار، د ننګرهار والي ګل آغا شيرزي، پروفېسر سيال




کاکړ، استاد برزین مهر او استاد آصف صمیم ناست وو. د غونډې باقاعده آغاز قاري عبدالله سحر د قرآن پاک د څو آیتونو د تلاوت نه وکړو. ورپسې د افغانستان ملي سرود وغږولے شو چې د غونډې ټول ګډون کوونکي ورته احتراماً ودریدل. د ټولو نه اول د ختېزې سیمې د لیکوالو او ژورنالېستانو د خپلواکې ټولنې مشر لال پاچا ازمون د غونډې د پرانستې وینا وکړه. لال پاچا ازمون سیمینار ته د راغلیو ټولو مېلمنو او کوربنو مننه وکړه او د هغه ټولو اشخاصو او ادارو ئې هم شکریه ادا کړه چې د دې سیمینار په راجوړولو کښې ئې ورسره مرسته او ملګرتیا کړې وه. ازمون د سیمینار په جوړولو کښې د ورپېښو یو شمېر ستونزو هم ذکر وکړو او د ټولنې د مالي پرېشانیو یادونه ئې وکړه. ازمون ووئیل چې ټولنې د دې سیمینار په ویاړ په مختلفو موضوعاتو یو شپېتهٔ کتابونه چاپ کړي دي چې ښاغلي اسد دانش راسره د دې کتابونو په چاپ کښې سره د خپلې ادارې دانش خپرندوئې ټولنې د پوره پوره تخنیکي مرستې ډېر کمک کړے دے او ټولنه د هغهٔ پوروړې ده.

د ازمون نه پس د کابل والي حاجي دین محمد د افغانستان د اولس مشر حامد کرزي پېغام وړاندې کړو، حامد کرزي په خپل پېغام کښې د داسې ادبي او ثقافتي سیمینارونو رابللو ستائینه او ډاډګېرنه کړې وه او دا ئې یوه ډېره ښهٔ خبره بللې وه چې دغه ټولنه د ژوندیو فرهنګیانو او فرهنګپالو په اعزاز کښې داسې قسم غونډې راجوړوي.

د افغانستان د جمهور رئیس ښاغلي حامد کرزي د پېغام نه پس د ننګرهار د اطلاعاتو کلتور او فرهنګ رئیس انور صمیم د افغانستان د اطلاعاتو کلتور او فرهنګ د وزیر ښاغلي عبدالکریم خرم پېغام وړاندې کړو. په دغه پېغام کښې هم د دې پروګرام او سیمینار راجوړول د یو ستر او نېک اقدام په توګه ستائیلي شوي وو او هیله څرګنده شوې وه چې دا سلسله به هم دغسې جاري وي. د دې نه پس د ننګرهار پوهنتون رئیس امان الله خان حامدزي د سیمینار په حواله لنډې شان خبرې وکړې، د دوي له اړخه د دوي پېغام معروف شاه وړاندې کړو. بیا د کونړ د والي الحاج فضل الله وحیدي پېغام ادریس غروال وړاندې کړو. د دې نه پس د افغانستان د علومو د اکاډمۍ د مشر استاد عبدالواجد واجد پېغام عبدالباري راشد وړاندې کړو.

ورپسې د دانش خپرندویې ټولنې مشر اسدالله دانش سټېج ته راوبللے شو. اسد دانش د دې سیمینار په ویاړ یو شمېر کتابونه د خپلې ټولنې له خوا چاپ کړي وو. دهٔ د ټولو نه اول د دغه کتابونو

یو سیټ د ختیزې سیمې د لیکوالو او ژورنالیستانو د خپلواکه ټولنې مشر لال پاچا ازمون ته وړاندې کړو او بل سیټ ئې د هغوی کتابتون ته ډالۍ کړو. دۀ په خپلو خبرو کښې ووې چې د کتابونو د چاپ په حواله هر کله زما ټولنه حاضره ده. دۀ ووې چې د لیکوالو او ژورنالیستانو ټولنې د دې سیمینار په ویاړ په مختلفو موضوعاتو یو شپېتۀ کتابونه چاپ کړي دي چې د ټولنې سره سره د ټولو ګډونوالو دپاره د ویاړ او خوشحالۍ خبره ده او دوی زما پوروړي نۀ دي، زۀ د دې خبرو قائل نۀ یم، دا زمونږ شریک کار او مرام دے.



ورپسې د سیمینار تکنیکي همکارانو د استاد اولمیر په آواز کښې د ملنګ جان لیکلې ملي ترانه "دا زمونږ ښکلی وطن" د غونډې شریکوالو ته وړاندې کړه. د ترانې په غږېدو نۀ صرف د غونډې تالار سندریز شو بلکې د غونډې ګډون والو ټوله ترانه په ډېره مینه او جذباتي انداز واورېده.

د دې ترانې نه پس د افغانستان په اولسي جرګه کښې د ننګرهار استازې صفیه صدیقي ته د خبرو بلنه ورکړې شوه.

صفیه صدیقي د داسې قسم غونډو په ګټه او اهمیت خبرې وکړې، صفیه صدیقي د حبیب الله رفیع، پروفېسر سیال کاکړ، ډاکټر اسرار او رحمت شاه سائل په حواله هم مختصرې خبرې وکړې او خصوصاً د رحمت شاه سائل په حواله ئې ووئیل چې د سائل صېب سندرې د پښتنو کور کور ته رسېدلې دي او ور زیاته ئې کړه چې کۀ د رحمان بابا نه پس په پښتنو کښې کوم مقبول شاعر دے نو هغه سائل صېب دے.

د صفیه صدیقي د خبرو نه پس سلېمان لائق د فولکلور په حواله مقاله وړاندې کړه چې موضوع ئې ټپه وه. دۀ په دې خبره زور راوړو چې د پښتو ټپې دې د خپلو اصل حوالو سره راغونډې او خوندي کړې شي. دۀ د نوو ټپو د کتابونو لیکلو مخالفت وکړو او وې وئیل چې د ټپې شاعر یا شاعره معلومه نۀ وي دا د ټولو پښتنو شریکه اثاثه ده. دۀ ووئیل چې د ټپو لیکلو بدعت صاحبزاده محمد ادریس شروع کړو چې د "ټپې او د شعور رود" په نوم ئې د ټپو کتاب ولیکلو. د دۀ نه پس سېد اکبر صابر هم د ټپو یوه مجموعه چاپ کړه. دۀ ووئیل چې په دغه دواړو کتابونو کښې داسې اولسي ټپې شته چې د متعلقه شاعرانو تخلیق نۀ دے خو دوی ئې خپل ګڼې. دوی د سېد اګل غریبیار د ټپو د مجموعې ذکر هم وکړو چې هغۀ په اولسي ټپو کښې ترمیمات کړي دي. دۀ د کابل ټولنې او پښتو اکېډمۍ پېښور د ټپو د مجموعو په حواله ووئیل چې دا مستندې نۀ دي ځکه چې حوالې نۀ لري چې دا ټپه د چرته نه راغلې ده، کوم ځائے وئیل کېږي، دۀ ووئیل چې دا خبرې فولکلور ته نقصان رسوي.



د سلیمان لائق د تفصیلي مقالې نه پس د ننګرهار والي ګل آغا شیرزي ته د خبرو بلنه ورکړې شوه. ګل آغا شیرزي ووئیل چې په ننګرهار کښې داسې غونډې رابلل د ننګرهار او زما دپاره د ویاړ خبره ده. دۀ په دغه حواله د ټولنې سره د هر قسم مرستې پخلے وکړو او په اخر کښې ئې د "نوروز" په حواله خپل یو نظم وړاندې کړو چې مقطع ئې داسې ده.

اے طالبه د شېرزي سره پخلا شه
د افغان خاورې ته نوے امن راوړه

د دې نه پس د کابل پوهنتون د ښکلو فنونو (فائن آرټس) د ځانګې زده کوونکو نبغ په نبغه د موسیقۍ د نوو آلاتو سره د پارسۍ ملي ترانه او د ملنګ جان قومي ترانه په خپلو برغو آوازونو کښې کښې وړاندې کړه. ورپسې د ټولنې له اړخه ډاکټر اسرار، رحمت شاه سائل، همېش خلیل، سیال کاکړ، اسد دانش او نورو ته خصوصي مډالونه، لونګۍ او د کونړ د والي له طرفه پکولونه ورکړې شول. ورپسې استاد برزین مهر په فولکلور (لنډۍ) خپله مقاله په پارسۍ ژبه واؤروله د استاد برزین مهر نه پس اسد الله غضنفر په "اقتصادي فولکلور" د عنوان لاندې خپله ګټوره او تفصیلي مقاله وړاندې کړه. دۀ ووې چې جامه پېزار، د پښتنو اولسي خوراکونه د وادۀ او اخترونو دودونه دا ټول فوکلور دے. دې له په اقتصادي بنیادونو وده ورکول پکار دي. د دې نشست په اخر کښې د بي بي عائشې لېسې ماشومانو جینکو په برغو آوازونو یوه ترانه وړاندې کړه او هم د دې سره دا نشست دوه بجې سر ته ورسېدو او د غرمې د ډوډۍ دپاره وقفه شوه.

دویم نشست ماسپښین درې بجې شروع شو چې د حبیب الله رفیع او سیال کاکړ په ویاړ ؤ. د دې نشست د نظامت چارې نقیب احمد اتل او خېرالله خیال ترسره کړې. په پرېزیډیم کښې همېش خلیل، اسدالله غضنفر، ډاکټر اسرار، رحمت شاه سائل، نجیب الله منلے ناست وو.

د تلاوت کلام پاک نه پس نبي تدبیر د حبیب الله رفیع پېغام واورولو. رفیع صېب په خپل پېغام کښې د ټولنې شکریه ادا کړې وه او معذرت ئې کړے ؤ چې د ناروغۍ د علاج په سلسله کښې هند ته د تګ په وجه ئې په دغه یادګاره غونډه کښې ګډون ونۀ کړے شو. د رفیع صېب د پېغام نه پس استاد آصف صمیم د سیال کاکړ او حبیب الله رفیع په ژوند فن او خدماتو خپله مقاله "د یوې ځانګې دوه ګلونه" د عنوان لاندې واوروله. همېش خلیل د طبیعت د ناسازۍ په وجه خپله مقاله وړاندې نۀ کړې شوه چې په فولکلور ئې لیکلې وه. د دې نه پسې د غونډې تکنیکي همکارانو د حبیب الله رفیع په آواز کښې د سیال کاکړ په ژوند او فن ریکارډ کړې شوې مقاله د غونډې شریکوالو ته وړاندې

کړه. رفیع صېب په ډېره خوږه او پسته ژبه کښې د سیال کاکړ په ژوند او فن خبرې کړې وې او د خپل تعلق او دوستۍ خوږې خاطرې ئې بیان کړې وې. د دې نه پس ماصل خان غم شریک د غونډې د ګډونوالو د تازه کولو او پام بدلولو دپاره د سائل صېب کلام په ترنم کښې وړاندې کړو. وروسته عبدالله بختاني خدمتګار خپله لیکنه وړاندې کړه او د بختاني صېب د علمي او تحقیقي لیک نه پس د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور د وزارت مشیر نجیب منلي هم په اقتصادي فولکلور خپله تفصیلي وېنا وکړه. دۀ ووئیل چې اقتصادي فولکلور ته وده ورکړئ او ګټه ترې پورته کړئ. دۀ په خصوصي توګه د ننګرهار د ګبین او افغانستان د قالین د صنعت ذکر وکړو چې نور خلق ترې ګټه پورته کوي. د نجیب صېب د خبرو نه پس د ننګرهار پوهنتون د پښتو ادب استاد محمد ابراهیم همکار د رفیع الله صېب په کتاب "د ستورو کرونده" د "درملنې نسخې" عنوان لاندې مقاله وړاندې کړه. په آخر کښې سیال کاکړ خپله تفصیلي وېناوکړه، دۀ په پښتني فولکلور خبرې وکړې او د رفیع صېب سره په خپلو شریکو خاطراتو ئې هم محفل ته ښکلا وبخښله. د حبیب الله رفیع او پروفېسر سیال کاکړ په ویاړ دا نشست د مولوي محمد داؤد په دعا ماښام سر ته ورسېدو.

د سیمینار په دوېمه ورځ د رحمت شاه سائل او ډاکټر اسرار په ویاړ نمانځغونډه وه. د نظامت چارې طاهر ځلاند او خېرالله خیال په ذمه وې. د دې غونډې صدارت همېش خلیل وکړو او په پرېزیډیم کښې ورسره رحمت شاه سائل، ډاکټر اسرار، پروفېسر سیال کاکړ، مشتاق مجروح، نجیب منلے او عمر دراز مروت ناست وو. د غونډې باقاعده آغاز د تلاوت کلام پاک نه وشو، وروستو مشتاق مجروح یوسفزي ته بلنه ورکړې شوه چې په ډاکټر اسرار لیکلے خپل تکل غونډې ته وړاندې کړي. تکل کښې مجروح صېب د ډاکټر اسرار د هر اړخیز شخصیت په ډېر شګفته او شائسته انداز کښې احاطه کړې وه چې وخت په وخت ورله ناستو کسانو د زړۀ د اخلاصه داد وکړو او مجروح صېب هم په خپل برجسته انداز اورېدونکي مجبور کړل چې هغه په پوره توجه واوري او د هغۀ د تحریر نه خوند واخلي.

وروسته امین تنها د سائل صېب په یو طویل نظم خپله تنقیدي مقاله واوروله، اورېدونکیو د ځوان نقاد مقاله ډېره وستائیله او په مقاله کښې وخت په وخت د سائل صېب د نظم د نمونو نه ناستو کسانو ډېر زیات خوند واخستو. د امین تنها نه پس محمد زبېر زبېر د ډاکټر اسرار په حواله خپل لیکلے نظم وړاندې کړو.

کۀ مېکده کښې دا تپوس کوومه
ساقي تۀ څۀ له بندوې ورونه
مرور زړۀ مې اوچ ګودر له بوځي
هلته نۀ ژوند وي نۀ د ژوند رقصونه

د زبېر د نظم نه پس د اطلاعاتو او کلتور د وزارت مشر نجیب منلي د سائل صېب په حقله خپل یادونه او خاطرات وړاندې کړل او اخر کښې ئې په هغۀ لیکلے خپل یو نظم هم وړاندې کړو.

د غونډې په دې برخه کښې د لکي مروت نه راغلي مېلمۀ شاعر عمر دراز مروت راوبلل شو،

عمر دراز مروت چې د ډېر ساده خو دروند شخصيت خاوند دے، په خپلو روماني شعرونو د ناستو خلقو نه ډېر داد واخستو.

هغه نمر مخے لکه نمر عمر دراز مروته
په نظر هره ورځ راځي خو په منګل نۀ راځي

ورپسې نقيب احمد اتل د سائل صېب غزل په ترنم کښې وړاندې کړو.

زنځير زنځير مورچه مورچه خوکۍ خوکۍ شو وطن
احساســه ســوځه جهــنم د زنــدګۍ شــو وطــن

د اتل د ترنم نه پس ډاکټر سليم بېديا ته بلنه ورکړې شوه چې د سائل صېب په غزليه شاعرۍ خپله مقاله اورېدونکو ته وړاندې کړي. مقاله نګار



په خپله مقاله کښې ډېر په دقيق نظر د سائل صېب د غزليه شاعرۍ جاج اخستے ؤ او په هغې ئې خپل تنقيدي نقطه نظر وړاندې کړے ؤ. د ډاکټر سليم بېديا د مقالې نه پس په سائل صېب ليکلے خپل نظم هم وړاندې کړو او په دغه وخت کښې چې د غونډې ګډون والو د مسلسل ناستې له وجې لږه ستړيا محسوس کړې وه، سټېج ته د ډېر شګفته شخصيت څښتن اکمل لېونے راوبلل شو چې تش د اکمل د نوم

په اورېدو د ناستو کسانو په مخونو تازګي خوره شوه او ټول ئې اورېدو ته غوږ غوږ شو. اکمل لېوني د ټولو نه اول خپله تاريخي مشاعره شروع کړه. پښتو ادب کښې به د فريحان شېدا، راحت سيال او اکمل لېوني په شان شخصيتونه ډېر کم پېدا شي. د اکمل مشاعرې کښې د پښتو ادب ټول مشران شاعران راځي او اکمل په داسې فنکارانه انداز د هغوي په سټائل کښې د هغوي شعرونه وائي چې کۀ سړے ورته سترګې پټې کړي نو وائي به چې هم هغه شخصيت ناست دے خپل شعرونه وائي. په دغه مشاعره کښې اکمل د حمزه شينواري نه واخله تر ايوب صابر، اقبال ابدار، رحمت شاه سائل، ګناهګار اپريدے، عارف تبسم، خېبر اپريدے او اجمل خټک پورې د ټولو کلامونه د هغوي په آواز او انداز کښې وړاندې کړل. د دې نه پس اکمل د سندرغاړي فضل ربي، احمد خان او سردار علي ټکر په آوازونو کښې بدلې سندرې او ټپې وړاندې کړې. د اکمل لېوني نه پس عبدالله بختاني خدمتګار ته د خبرو کولو بلنه ورکړې شوه، عبدالله بختاني خدمتګار د سائل صېب او ډاکټر اسرار په حواله خپلې خوږې خاطرې په ډېر ښکلي انداز او تسلسل کښې وړاندې کړې. ورپسې د ډاکټر اسرار په فن او شخصيت سائل صېب ته د خبرو کولو بلنه ورکړې شوه. سائل صېب د ډاکټر صېب د شخصيت او فن په تفصيل سره جائزه واخسته او په اخر کښې ئې د اورېدونکو په ډېره غوښتنه خپل کلام په ترنم کښې وړاندې کړو.

متن الوتے، دستخط وران، تت ئې عنوان پاتې دے
خيال د جانان راته د سپين کاغذ په شان پاتې دے

حالاتو څۀ هم کۀ په ټوله دنيا وشيندلم
زما په زړۀ زما د خپل وطن جانان پاتې دے

د سائل صېب نه پس ډاکټر اسرار په خپلو خبرو کښې په دومره درناوي د ننګرهار د خلقو او ليکوالو او ژورنالستانو مننه وکړه. هغۀ ووې چې ټول سيمينار ډېر منظم ؤ، دومره لوئے پروګرام په داسې منظم ډول چلول يقيناً چې ګران کار دے. د دې ټولنې ټول عهديداران او غړي د ډېر داد او ستائنې وړ دي. دۀ ووې چې ما ته د بره پښتونخوا



ياران او دوستان ډېر ګران دي او مونږ ته خو په کورونو کښې د وړوکوالي نه دا تعليم راکړل کېږي چې زمونږ خپل وطن لوئے افغانستان دے. زمونږ د دې احساس او فکر اندازه به تاسو زمونږ د ټولو د ليکونو او شعرونو نه په ښۀ شان لګولے شئ. دۀ زياته کړه چې زما دپاره دا هم د خوشحالۍ خبره ده چې د دې ځائے زده کوونکو په ډېر منظم ډول ټول پروګرام واوربدو. د دوي تربيت په ډېر ښۀ ډول شوے دے، ډاکټر صېب د خبرو نه پس خپل تازه شعرونه هم غونډې ته وړاندې کړل. د ډاکټر صېب نه



پس محترم آصف صميم صېب د سيمينار پرېکړې واورولې او د ناستو کسانو په لږ ترميم او اضافه ټولې پرېکړې د غونډې ګډون والو په شريکه تائيد کړې.

د پرېکړو نه پس همېش خليل په خپله صدارتي خطبه کښې د رحمت شاه سائل او ډاکټر اسرار په ژوند او فن خبرې وکړې. همېش صېب ووې چې د سائل صېب په فن کښې د ظلم او جبر په خلاف مزاحمت دے او د پرېوتي او زپلي شوي طبقې د جذباتو او احساساتو ترجماني ده او د ډاکټر اسرار په فن کښې ترقي پسند رومانيت دے او خصوصاً د هغۀ په تکل کښې يو نوے رنګ او خوند دے. ډاکټر اسرار هغه وړومبے کس دے چې په پښتو ادب کښې ئې په باقاعده ډول په سنجيدګۍ سره تکل ته پاملرنه وکړه او د هغۀ د تکل ليکلو سره سره د نورو ليکونکو هم دې پله پام راوګرځېدو او تکل ليکل په پښتو ادب کښې باقاعده شو، نو ځکه مونږ دۀ ته په يوه حواله د تکل ليکونکو سرخېل هم وئيلے شو.

دا غونډه دوه بجې سر ته ورسېده تر ماښامه د غونډې ګډون وال بېلابېلو ځايونو ته بوتللے شو،

مـازيگر چارباغ کښې د برکت الله کمين صيب په مزار يوه غونډه وشوه چې عبدالله بختاني صيب او صفيه صديقي په تفصيل سره خبرې وکړې.
ماسخوتن د قبائلو د رياست د غونډو په تالار کښې مشاعره وه چې صدارت ئې رحمت شاه سائل وکړو، په پريزيډيم کښې ډاکټر اسرار، صفيه صديقي، امجد شهزاد، گوهر وزير، رشيد خټک، شفيع الله بابرزے ناست وو، ناستو کسانو مشاعره ډيره په ذوق او شوق واوريده. مشاعرې ته د افغانستان او کوزې پښتونخوا د مختلفو علاقو نه ډير شاعران راغلي وو. بيا هم د وخت د کمي د وجې نه ډير شاعران د کلام وئيلو نه پاتې شو.

په سبا له د گل په ورځ په شپاړسم تاريخ لغمان کښې د اسد دانش په ديره کښې يوه ډيره خوندوره مشاعره وشوه.د دې نه علاوه په سيمينار کښې هره شپه د موسيقۍ پروگرامونه هم وشو چې د افغانستان د سندرغاړو نه علاوه پکښې د پښتونخوا نه سردار يوسفزي، نعيم طوري او امجد شهزاد برخه واخسته.